**بسم الله الرحمن الرحيم**

**د حزب التحرير د امیر، جلیل القدر عالم، شیخ عطا بن خلیل ابو الرشته لخوا د نوموړي د پاڼو کتونکو ته د ۱۴۴۴هـ.ق/۲۰۲۳م کال د نېکمرغه کوچني اختر په مناسبت د مبارکۍ پیغام!**

(ژباړه)

الحمد لله والصلاة والسلام علی رسول الله و علی آله و صحبه ومن والاه، و بعد!

اسلامي امت ته خطاب، د بشریت لپاره غوره امت ته:

**﴿كُنْتُمْ خَيْرَ أُمَّةٍ أُخْرِجَتْ لِلنَّاسِ تَأْمُرُونَ بِالْمَعْرُوفِ وَتَنْهَوْنَ عَنِ الْمُنْكَرِ وَتُؤْمِنُونَ بِاللَّهِ﴾** [آل عمران: ۱۱۰]

***ژباړه:*** *تاسو هغه امت یاست چې د انسانانو د ګټې لپاره پیدا شوی؛ [ځکه] تاسو پر معروف امر کوئ او منکر منع کوئ او پر الله ایمان لرئ.*

د حزب‌التحریر مرکزي مطبوعاتي دفتر وېبپاڼې درنو لیدونکو ته!

تاسو ته د نېکمرغه فطر عید مبارکي وایم او له الله سبحانه وتعالی څخه غواړم چې روژه، قیام او ټول نېک عملونه مو قبول کړي او په دغه مبارکه میاشت کې چې تېره مو کړه، د دوزخ له اوره مو وژغوري! ترمذي په خپل سنن کې له ابو هریره رضي‌الله عنه څخه د رمضان د شپو په اړه روایت کړی، چې رسول الله صلي الله علیه وسلم وفرمایل:

«**وَلِلَّهِ عُتَقَاءُ مِنَ النَّارِ وَذَلكَ كُلَّ لَيْلَةٍ**» (پورتنی حدیث حاکم په مستدرک کې روایت کړی دی)

***ژباړه:*** *الله (سبحانه وتعالی) هره شپه بنده‌ګان د دوزخ له اوره ژغوري.*

له الله سبحانه و تعالی څخه غواړم چې دغه عید مسلمانانو ته د خیر او برکت مقدمه کړي او راتلونکی عید په داسې حال کې راورسېږي چې موږ د راشده خلافت – د لا اله الا الله محمد رسول الله - د رایې (د اسلام تور بیرغ) د عظمت، نصرت او قدرت په سیوري کې راشو. دغه کار الله سبحانه وتعالی ډېر اسانه دی.

احمد په خپل مسند کې له حذیفه بن الیمان څخه روایت کړی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**...ثُمَّ تَكُونُ مُلْكًا جَبْرِيَّةً فَتَكُونُ مَا شَاءَ اللَّهُ أَنْ تَكُونَ ثُمَّ يَرْفَعُهَا إِذَا شَاءَ أَنْ يَرْفَعَهَا ثُمَّ تَكُونُ خِلَافَةً عَلَى مِنْهَاجِ النُّبُوَّةِ**» **ثُمَّ سَكَتَ** (دغه حدیث الطیالسي هم په خپل مسند کې روایت کړی دی)

ژباړه: ...بیا به جبریه حکومت وي، ترکله چې الله وغواړي، دوام به لري. بیا چې کله وغواړي هغه به واخلي. بیا به د نبوت پر منهج خلافت راځي. بیا هغه *صلی الله علیه وسلم* چوپ شو.

په پای کې تاسو ته سلام او د خیر دعا کوم؛ الله سبحانه وتعالی دې ستاسو عبادتونه قبول کړي.

**والسلام علیکم و رحمة الله و برکاته**

**ستاسو ورور عطا بن خلیل ابو الرشته**

**۱۴۴۴ هـ.ق، د شوال ۱، د نېکمرغه فطر عید لومړۍ ورځ**

**۲۰۲۳م، د اپریل ۲۱مه**